Share

Twittern

سلام خان

۲۰۱۲/۰۵/۲۲

# د شیکا ګو په غونډه کې دولسمشر حامدکرزي د وینا متن

بسم الله الرحمن الرحیم

جلالتمآب جمهوررئیس اوباما،
د ناټو سازمان عمومي منشي،
د دولتونو او حکومتونو جلالتمآبو رئیسانو،
عالیقدرو استازو،
میرمنو او ښاغلو!

ترهرڅه لومړی غواړم د شیکاګو په دغه ښکلي ښارکې د جلالتمآب جمهوررئیس اوباما له تاوده هرکلي او کوربه توب څخه مننه وکړم. خوښ یم چې د ناټو سازمان په دغه مهمه غونډه کې خبرې کوم هغه تګلوری چې د افغانستان او نړیوالې ټولنې ترمنځ د همکارۍ اوسني پړاو ته رسیدلی دی، د امریکا د متحده ایالاتو لخوا شاوخوا له یوې لسیزې مخکې هغه مهال پیل شو چې د سپټمبر د۱۱ له پیښو وروسته نړیوال د نړیوال تروریزم د له منځه وړلو په موخه سره راټول شول. په دغه ګډه مبارزه کې مو هم د القاعدې پرخلاف د مبارزې او هم مو د افغانستان د بیارغونې په برخوکې ډیرې لاس ته راوړنې لرلي دي د افغانستان خلک د نړۍ له ټولو ملتونو څخه چې استازي یې دلته حضور لري مننه کوي چې په تیرو لسو کلونو کې یې د خپلې وینې او پانګې په بیه له افغانستان څخه ملاتړ وکړ ترڅو په نتیجه کې وکولای شو خپل ماشومان ښوونځي ته ولیږو، د خپلو اتباعو روغتیا او ژوند ښه کړو او د یوې محکمې ډیموکراسۍ او غوړیدلي اقتصاد بنسټ کیږدو. ستاسو ملاتړ د دې سبب شو چې افغانستان د نړۍ د نورو ملتونو ترڅنګ خپل غوره ځای بیا ومومي دغه لاس ته راوړنې د افغانستان د خلکو او د هغو زیاتو ښځو او نارینه وو له قربانیو پرته شونې نه وې چې له بیلابیلو هېوادونو څخه د افغانستان مرستې ته راغلي دي خو، په داسې حال کې چې د تیرو لسو کلونو پر لاس ته راوړنو ویاړو، باید د افغانستان د خلکو بې شمېره قربانۍ او رنځونه هم له پامه ونه غورځوو له دې امله هغه نیمګړتیاوې چې له ترهګرۍ سره د مبارزې په لاره کې موجودې دي باید له منځه لاړې شي. له ترهګرۍ سره مبارزه له بده مرغه یوازې د افغانستان په محورکې خلاصه شوې، د افغانستان کلي او ښارونه د تاوتریخوالي له لمبو څخه رنځیدلي دي. په داسې حال کې چې د تروریزم امن پټن ځایونه، د روزنې کمپونه او د هغه له مشرانو څخه د ملاتړ شبکې د افغانستان له پولو څخه دباندې همداسې لاس نه خوړلې پاتې دي د دغې پدیدې پرخلاف له یوې لسیزې جګړې سره سره، ترهګري لا اوس هم د یو جدي ګواښ په توګه مطرح ده، د افراطیت او افراط ګرایۍ پدیدې د پراختیا په حال کې دي. لکه چې ټول پوهیږی په سیمه کې د دغو پدیدو ترویج نه یوازې د افغانستان او پاکستان ثبات ته ناوړه عواقب متوجه کړي دي، بلکې د سیمې او ټولې نړۍ امنیت یې هم له خطر سره مخامخ کړی دی.

میرمنو او ښاغلو،

په داسې حال کې چې باید له تیرو تجربو څخه یې زده کړو، په حقیقت کې د افغانستان او نړیوالې ټولنې ترمنځ د همکارۍ راتلونکی دی چې د دغې مهمې غونډې د بحثونو محور باید جوړ کړي. راتلونکې ته په پاملرنې، زه په افغانستان کې د مسوولیتونو د لیږد روان بهیر په ګډو هڅوکې د یوې مهمې ستراتیژیکې موضوع په توګه ګڼم. ما په پرله پسې ډول حتی د لیږد د بهیر له اداني څخه دوه کاله مخکې په لزبن کې په خپل لاس د خپل برخلیک د ټاکلو او له خپل هېواد څخه د دفاع د مسوولیت اخیستلو په اړه د افغانستان د خلکو هیله ټولو ته و رسوله د تیر کال د جولای په میاشت کې د مسوولیتونو د لیږد د بهیر له پیل کیدو څخه وروسته، له یو کال څخه په لږه موده کې، نن افغان امنیتي ځواکونه د امنیت د ټینګښت رهبري په غاړه لري او د هېواد له نیم نفوس څخه ساتنه کوي. تر راتلونکو شپږو میاشتو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پورې به د افغان امنيتي ځواکونو تر مسووليت لاندې ساحه د افغانستان په ټولو ۳۴ ولايتونوکې پراخه او د هېواد ۷۵ فيصده نفوس به تر خپل امنيتي چتر لاندې راولي. په عين حال کې د افغانستان او امريکا ترمنځ وروستي تفاهم ليکونه چې د هغو له مخې شپني عمليات او زندانونه د افغانستان د حکومت تر کنترول لاندې راځي، د لېرد د بهير د تحقق په لاره کې يو مثب انکشاف دی او هم د افغانستان حاکميت ته د احترام په خاطر يو بل مهم ګام زموږ د افغانانو له نظره، د۲۰۱۳ ميلادي کال تر نيمايي پورې په بشپړه توګه د لېږد د بهير د عملي کيدلو په شمول دلېږد د بهير د موخو او اصولو تطبيق او د۲۰۱۴ ميلادي کال ترپايه پورې د ايساف د ځواکونو وتل نه يوازې د امنيتي ستراتيژی د تحقق په لاره کې لوړ ګام دی، بلکې په ټل پاتې سولې باندې د لاس برې او په خپل ځان باندې د اتکا لپاره يوه سياسي اړتيا ګڼل کيږي. موږ د لېږد د په شا نه تلونکي بهير تحقق خپل رسالت ګڼو او دې ته ژمن يو هغه مسووليت چې ستاسو د هېوادونو په يونفورم ملبس نارينه او ښځې يې په افغانستان کې ترسره کوي، موږ په خپله غاړه واخلو.

عالي جنابانو،
په افغانستان کې د لېږد نه په شا تلونکی بهير د ناټو سازمان د ملاتړو او د نورو همکاروهېوادونو په دوامدار ملاتړ او همکاری پورې اړه لري.دغه ملاتړ او همکاري په ځانګړي ډول د افغانستان د امنيتي ځواکونو روزنه، سمبالښت او د هغوی د ظرفيتونو لوړوالي کولای شي دکورنيو او بهرنيو ګواښونو پر وړاندې له خپل ځان څخه د دفاع په لاره کې د افغانستان په پياوړتيا کې ډير مهم عامل دی، په دې خصوص کې موږ د ناټو په ماموريت کې له محاربوي رول څخه د ملاتړ کوونکي، روزنيز او مشورتي رول بدلون ته هرکلی وايو. په ايساف او نړيواله ټولنه کې له خپلو ملاتړو څخه غواړو چې د سړکونو د غاړو د ماينونو ضد وسايلو، لوژستيکي، استخباراتي او هوايي پرمختللو امکاناتو په شمول لازم امکانات د افغانستان په واک کې ورکړي زه د ناټو له رهبری او ديد او د هغو له غړو هېوادونو څخه په ځانګړي ډول د امريکا له متحده ايالاتو مننه او قدرداني کوم چې د افغان امنيتي ځواکونو څخه يې د ملاتړ کوونکي اوږدمهالي پلان په طرحه کې څرګند کړی دی. زما په باور د لېږد د پړاو له پای ته رسيدو وروسته د افغانستان د امنيتي ځواکونو لپاره په هر کال کې۴،۱ميليارد ډالره اټکلي لګښت دساتنې يو رقم دی. په دې اړه غواړم د افغانستان د حکومت پر ژمنه چې د همدغې موخې لپاره د۵۰۰ ميليونو ډالرو وړاندې کول دي او هم غواړم په دې باندې ټينګار وکړم چې د وخت په تيريدو او د هېواد دا قتصاد په ښه والي سره به دغه رقم زيات شي. له دې امله د ۳،۶ ميلياردو پاتې ډالرو د تمويل لپاره، هيله لرم چې دغه کنفرانس وکولای شي له ۲۰۱۴ ميلادي کال وروسته له دغه بهير سره د مرستې لپاره قوي نړيواله ژمنه ترلاسه کړي. همدا راز د دغو سرچينو د لګښت لپاره د نويو ميکانيزمونو د جوړيدو پر اهميت باندې ټينګارکوم چې په ګټوره او انعطاف منونکي ډول په داسې توګه چې د افغانستان بنسټونه حد اکثر مفاد له نړيوال ملاتړ څخه ترلاسه کړي.

ميرمنو او ښاغلو
غواړم يو ځل بيا د افغانستان په اړه په تير کال کې د بن د نړيوال کنفرانس د جوړيدو لپاره د آلمان هېواد دکوربه توب له امله مننه او قدرداني وکړم. په دې کنفرانس کې د افغانستان حکومت او نړيوالې ټولنې له ۲۰۱۴ ميلادي کال څخه تر ۲۰۲۴ ميلادي کال پورې د يوې بلې لسيزې لپاره خپل ځانونه په يوه نظر د يوې اوږدمهالې همکاری لپاره ژمن کړل. د بدلون لسيزه د ښې راتلونکې او په خپل ځان باندې د اتکا په خاطر د افغانستان د هڅو لپاره يوه کيلي ده. په دې خصوص کې موږ له ناټو او له نورو سره پايه داره همکاري د ملي امنيت د اوږدمهالو ګټو په ټينګښت او د سيمې په ثبات او له نړيوالې سولې سره د مرستې لپاره زموږ د ځواکمنی په خاطر مهم امر ګڼو. د همدغه کال په لومړيو کې، موږ د اوږد مهالو همکاريو سندونه د هند، فرانسې، ايټاليا او بريتانيا له هېوادونو سره لاس ليک کړل. په دې وروستيوکې مو د همکاری موافقه ليکونه د استراليا او آلمان له هېوادونو سره هم لاس ليک کړل. په همدې ډول د امريکا له متحده ايالاتو سره مو تايخي او ستراتيژيک موافقه ليک لاس ليک کړ چې زموږ د هېوادونو ترمنځ د ستراتيژيکو اړيکو د پراختيا لپاره حد اقل يوه لسيزه نوره هم مرسته کوي دغه همکاری له نړی سره د افغانستان د اړيکو د نوي فصل پيل دی. د همکاری دغه سندونه د تساوي او د ګډو ګټو بر بنسټ د دوومتحدو ترمنځ د نړيوالې سولې او امنيت د ټينګښت لپاره د اړيکو بيانونکي دي موږ په دغو همکاريو سره د افغانستان د خلکو د هيلو د تحقق په موخه سولې او ثبات ته متوسل شوي يو او د دغو همکاريو په دوامدار ډول اعتبار په افغانستان کې سولې او ثبات ته زموږ د رسيدلو او په دې لاره کې په برياليتوب پورې اړه لري له امريکا او نورو هېوادونو سره زموږ همکاري زموږ د ملي ګټو پر بنسټ ترسره کيږي د دريم هېواد پرخلاف نه دي او سيمې ته به هيڅ ګواښ متوجه نه کړي. کلک


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

باور لرم چې دغه همکاری به د سیمې د ثبات او د پراخې سوکالۍ په ګټه ترسره شي علاوه پردې د يو ثبات لرونکي او سوکاله افغانستان لپاره زموږ نظرونه له هغې ثبات لرونکې سیمې سره کلک پیوند لري چې په هغې کې اقتصادي همګرايي تحقق موندلی وي او په هغې کې ګډه سوکالي مساعده وي. په دې خصوص کې د استانبول بهير د افغانستان او د هغه د لرې او نیږدې ګاونډيانو د اعتماد جوړولو او د سیمې په کچه د همکاریو د پراختیا په خاطر د صادقانه تفاهم لپاره يو بې ساری فرصت برابر کړی دی د استانبو د بهير د يوې برخې په توګه افغانستان ژمن دی چې د پراخې همکارۍ او تفاهم په محورکې د سیمې په نیږدې کولوکې خپل رول په پراخه پیمانه ولوبوي او هیله لرو چې دا بهير هم زموږ د سیمه ایزو او نړیوالو همکارانو له اعتماد او ملاتړ څخه برخمن وي. په دې اړه موږ د استانبول د بهير دتحقق لپاره د راتلونکي ګام په توګه د روان کال د جون په میاشت کې په کابل کې د وزیرانو ترمنځ کنفرانس ته سترګې په لاره يو.

میرمنو او ښاغلو

په افغانستان کې د تل پاتې او پایه دارې سولې د ټینګښت په لاره کې بل مهم او عمده عامل هماغه د سولې او روغې جوړې د بهير بریالیتوب دی چې کلونه کیږي هغه مو په قوت او ټینګې ژمنې سره پرمخ بیولی دی. د عمومي اجماع په ټینګښت سره په افغانستان کې په سوله ایزه توګه د دغې جګړې د پای ته رسیدو لپاره موږ طالبانو او نورو اورپکو ډلو ته د روغې جوړې لاس اوږد کړی دی. د هغو اصولو له مخې چې د سولې د مذاکرو د نتیجو لپاره ټاکل شوی دي د هغو له جملې څخه له تاوتریخوالي څخه لاس اخیستل، له نړیوال تروریزم سره د اړیکو پرې کول، د تیرو لسو کلونو د لاس ته راوړنو ساتنه او اساسي قانون ته احترام کول دي. هڅه کووچې د سولې بهير ټول شمول شي او دهغو کسانو لپاره يو مناسب بدیل وي چې غواړي په ټولنه کې آبرومند ژوندانه ته راوګرځي د مذاکرې میز ته د طالبانو د رهبرۍ د راوستلو لپاره د پاکستان جوړونکې همکاري کلیدي ده. موږ په دې باور يو چې افغانستان او پاکستان د ګډو پراخو ګټو لرونکي دي چې باید د افراطیت او افراطیونو د ماتې لپاره چې زموږ د خلکو د وژلو، زموږ د هېوادونو د حاکمیت کمزورتیا او د سیمې بې ثباتي يې موخه ده، ګډه مبارزه وکړوپه څو وروستیو کلونوکې موږ له پاکستان سره د سولې د بهير په اړه له نیږدې څخه همکاري کوو او هیله لرم چې په را روانو اونیو او میاشتوکې په دې لاره کې د لوړو ګامونو د پورته کولو او د ګټورو تدبیرونو شاهد و اوسو په داسې حال کې چې پاکستان، د سیمې هېوادونه او له هغو هاخوا د سولې له بهير څخه د ملاتړ او د هغې په بریالیتوب کې مهم رول لري، خو دا يوازې افغانان دي چې د دغه بهير اصلي خاوندان دي او هغه رهبري کوي.

میرمنو او ښاغلو

دبدلون لسیزه پردې مبنا استواره ده چې افغانستان په خپل ځان باندې اتکا ته د رسیدلو لپاره له ۲۰۱۴ میلادي کال وروسته حد اقل د يوې بلې لسیزې لپاره د نړیوالې ټولنې پراخې انکشافي همکارۍ ته اړتیا لري په دې خصوص کې زه د جاپان له حکومت څخه د افغانستان لپاره د مرسته کوونکو د نړیوالې غونډې د جوړیدو له امله چې په پام کې ده د روان میلادي کال د جولای په میاشت کې په توکیو کې جوړه شی، مننه او قدر داني کوم. پر هغې پیاوړې سیاسي ژمنې باندی په ټینګار سره چې افغانستان دعامه سوکالۍ د ټینګښت لپاره په تیر کال کې د بن په کنفرانس کې وکړه، موږ به د توکیو په کنفرانس کې د افغانستان ستراتیژیکه اقتصادي طرحه چې له ۲۰۱۴ میلادي کال وروسته په خپل ځان باندې اتکا ته د رسیدو پر محور به متمرکزه وي، وړاندې کړو. د دغې طرحې عمده موخه به دا وي چې په تدریج سره له نړیوالو مرستو سره زموږ د تړلتیا اندازه راکمه شي، پخپله د افغانستان له اقتصادی ظرفیتونو څخه کار واخیستل شي او ټول افغانان تل پاتې مناسب پایه دار انکشاف ته لاس رسی ولري موږ به همدا راز د دولتي ځواکمنو او ګټورو بنسټونو د جوړولو په شمول د ادارې د اصلاح او ښه والي لپاره د خپل کار جامع لارښود په عمل کې پلی کړو. د کمزورو بنسټونو، د پي آر تي په څېر د موازي جوړښتونو شتون او په تړونونو باندې تکیه کولو د خلکو او حکومتي بنسټونو ترمنځ تشه رامنځته کړې ده. موږ به دغه ټول موازي جوړښتونه له منځه يو سو، په عامه خدمتونوکې به ښه والی رامنځته کړو، د اداري فساد پر وړاندې به د حکومتي ادارو په داخل اویا له هغو څخه د باندې مبارزه وکړو. په ځانګړې ډول د جمهوررئیس په توګه زما د دندې په پاتې موده کې به خپله پاملرنه د يوې غیر سیاسي، مسلکي، پاکې او دکاري مصونیت پر اصل باندې د ولاړې ملکي ادارې د سیستم جوړولو ته واړوم په ۲۰۱۴ میلادي کال کې د انتخاباتو ترسره کیدل په حقیقت کې د افغانستان د سیاسي بلوغ لپاره يو مهم بنسټ دی، په اوږدمهال کې به د ثبات په ټینګښت او په هېوادکې د دیموکراسۍ پر پیاوړتیا باندې مهم اغیز ولري. له دې امله دغه ټاکنې باید له هرډول کورنیو او بهرنیو لاس وهنو او درغلیو څخه پاکې وي. موږ ژمن يو چې په آرام ډول او د اساسي قانون د



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

احکامو له مخې د سياسي ليرد د تحقق لپاره لازم تدبيرونه ونيسو او د يوې پراخ بنسټه او ديموکراتيکې ادارې لپاره د افغاني ټولنې د ټولو قشرونو هيلې په پام کې ونيسو .

ميرمنو او ښاغلو

په دې فرصت کې غواړم له هغو ټولو هېوادونو څخه چې استازي يې دلته حضور لري او له ۲۰۱۴ ميلادي کال وروسته يې له افغان امنيتي ځواکونو سره خپلې مالي ژمنې اعلان کړې، مننه او قدرداني وکړم. د افغانستان امنيت د سيمې له امنيت سره نه شليدونکې پيوند لري او عواقب يې نړيوال امنيت ته هم متوجه دي.

يو ځواکمن افغانستان چې ګټورې او ځواکمنې امنيتي قواوې ولري په حقيقت کې به په سيمه کې د امنيت مهم عامل او هم د نړيوالې ټولنې د اعتبار وړ همکار واوسي له دې امله د افغانستان د امنيتي ځواکونو د راتلونکې انکشاف لپاره ستاسو مرستې په حقيقت کې د سيمې او نړيوال امنيت د دفاع لپاره پانګه اچونه ده. مننه

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ